

# د پښتو نني ليکوال

**ليکوالان:**

استاد قيام الدين خادم

او

پوهاند صديق الله ربنتين

**سريزه، زياتوني او تعليقات:**

پوهنمل مطيع الله روهيال

د پښتو نني ليکوال

ليکوالان: استاد قيام الدين خادم او پوهاند صديق الله ربنتين

سريزه، زياتوني او تعليقات: پوهنمل مطيع الله روهيال

# Contemporary Writers of Pashto

Senior Teaching Assistant Matiullah Rohyal

2023

ISBN 978-9936-661-91-2

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست**

# د پښتو ننني لیکوال

لیکوالان:

**استاد قیام الدین خادم**

او

**پوهاند صدیق الله رښتین**

**سریزه، زیاتونې او تعلیقات**: پوهنمل مطیع الله روهیال

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د پښتو ننني لیکوال

**لیکوالان:** استاد قیام الدین خادم او پوهاند صدیق الله رښتین

**سریزه، زیاتونې او تعلیقات**: پوهنمل مطیع الله روهیال

**ایډیټ او اهتمام:** سید نظیم سیدي

**د چاپ کال:** ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN : ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٦۱-۹۱-۲

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمۍ سره خوندي دي**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د موضوع لنډیز ............................................................ ا
د لارښود ګزارش ............................................................ ج
سریزه ............................................................ ۱
د موضوع موخه او هدف ............................................................ ۲
د څېړنې میتود ............................................................ ۳
د موضوع شالید ............................................................ ۳
**۱ – حاضر متن او لیکوالان یې ............................................................ ۵**
۱ – ۱: د متن معرفي ............................................................ ۵
۱ – ۲: د متن لیکوالان ............................................................ ۱۰
۱ – ۲ – ۱: استاد قیام الدین خادم ............................................................ ۱۰
**۱ – ۲ – ۲: پوهاند صدیق الله رښتین............................................................ ۲۰**
**۱ – ۳: د دې تذکرې اهمیت** ............................................................ ۳۶
**۲ – متن ............................................................ ۳۹**
۲ – ۱: محمدګل خان مومند ............................................................ ٤۱
۲ – ۱ – ۱: سوچه والی او پراختیا ............................................................ ٤٤
۲ – ۱ – ۲: متحده سبک............................................................ ٤۹
۲ – ۱ – ۳: مومند صاحب او شعر ............................................................ ۵۱
۲ – ۱ – ٤: د مومند صاحب تألیفات............................................................ ۵٤
۲ – ۲: عبدالحی خان حبیبي ............................................................ ۵٤

٢ – ٣: سید شمس الدین خان مجروح ........................................ ٦٥
٢ – ٣ – ١: د حضرت مجروح مستقل تالیفونه........................................ ٧٤
٢ – ٤: ولي محمد خان مخلص........................................ ٧٥
٢ – ٤ – ١: د مخلص شاعري ........................................ ٧٦
٢ – ٥: سید حسن خان حسن........................................ ٨٠
٢ – ٦: امین الله خان زمریالی........................................ ٨٤
٢ – ٧: څو کرښې نورې........................................ ٨٧
٢ – ٨: قیام الدین خادم........................................ ٨٧
٢ – ٨ – ١: تألیفات ........................................ ٨٩
٢ – ٩: غلام جیلاني خان جلالي........................................ ٩٠
٢ – ١٠: محمداعظم خان ایازي........................................ ٩٤
٢ – ١١: برهان الدین خان کشککي ........................................ ٩٥
٢ – ١٢: صالح محمد خان........................................ ٩٦
٢ – ١٣: محمدامین خوګیاڼی ........................................ ٩٩
٢ – ١٤: سید حسن خان سید ........................................ ١٠١
٢ – ١٥: سراج الدین خان سعید ........................................ ١٠٤
٢ – ١٦: محمدعثمان خان پښتون........................................ ١٠٥
٢ – ١٧: ګل پاچا خان الفت........................................ ١٠٦
٢ – ١٨: رحمت الله خان قندهاری ........................................ ١٠٩
٢ – ١٩: غلام رحمن خان جرار........................................ ١١١
٢ – ٢٠: محمدګل خان نوري........................................ ١١٣
٢ – ٢١: ارسلان خان سلیمي ........................................ ١١٣

۲ – ۲۲: عبدالخالق خان اخلاص ........................................ ۱۱٤
۲ – ۲۳: محمدشریف خان جانان ........................................ ۱۱۵
۲ – ۲٤: وروستنۍ خبره ........................................ ۱۱۵
۲ – ۲۵: محمدرفیق خان حبیبي ........................................ ۱۱٦
۲ – ۲٦: محمدعمرخان بلبل افغان ........................................ ۱۱۹
۲ – ۲۷: محمدیوسف ایازي ........................................ ۱۲۲
۲ – ۲۸: میراجان سیال ........................................ ۱۲٤
۲ – ۲۹: عبدالخالق خان واسعي ........................................ ۱۲۷
۲ – ۳۰: قاضي عبدالصمد خان ........................................ ۱۳۱
۲ – ۳۱: محمدگل للمه ........................................ ۱۳۳
۲ – ۳۲: عبدالرؤف خان بېنوا ........................................ ۱۳٦
۲ – ۳۳: قاضي شکرالله ........................................ ۱۳۸
۲ – ۳٤: محمدرسول خان مسلم ........................................ ۱٤۰
۲ – ۳۵: عزیزالرحمن خان ........................................ ۱٤۲
۲ – عبدالرازق خان فراهي ........................................ ۱٤۳
۲ – ۳۷: شېرگل خان ........................................ ۱٤۵
۲ – ۳۸: محمدرسول خان پښتون ........................................ ۱٤٦
۲ – ۳۹: شمس الدین خان قلعتکی ........................................ ۱٤۸
۲ – ٤۰: محمداویس خان کاکړ ........................................ ۱٤۹
۲ – ٤۱: سعدالله خان ........................................ ۱۵۱
۲ – ٤۲: محمدنسیم خان نوري ........................................ ۱۵۳
۲ – ٤۳: عبدالغفور خان خروټی ........................................ ۱۵۵

۲ – ٤٤: عطاء الله خان غزنوي ........................................ ۱٥۷
۲ – ٤٥: محمدرفيق خان قانع ........................................ ۱٥۸
۲ – ٤٦: صديق الله رښتين ........................................ ۱٥۹
**۳ – تعليقات ........................................ ۱٦٤**
۳ – ۱: توضيح ........................................ ۱٦٤
۳ – ۲: محمدگل خان مومند ........................................ ۱٦٤
۳ – ۳: عبدالحی خان حبيبي ........................................ ۱٦۸
۳ – ٤: سيد شمس الدين خان مجروح ........................................ ۱۷۹
۳ – ٥: ولي محمد خان مخلص........................................ ۱۸۱
۳ – ٦: سيد حسن حسن........................................ ۱۸۳
۳ – ۷: امين الله خان زمريالی........................................ ۱۸۳
۳ – ۸: قيام الدين خادم........................................ ۱۸٦
۳– ۹: غلام جيلاني خان جلالي........................................ ۱۸٦
۳ – ۱۰: محمداعظم ايازي........................................ ۱۹۱
۳ – ۱۱: برهان الدين کشککي........................................ ۱۹۲
۳ – ۱۲: صالح محمد خان........................................ ۱۹٥
۳ – ۱۳: محمدامين خوگيانی ........................................ ۱۹۷
۳ – ۱٤: سيد حسن سيد ........................................ ۲۰۱
۳ – ۱٥: سراج الدين سعيد ........................................ ۲۰۱
۳– ۱٦: محمدعثمان پښتون ........................................ ۲۰٤
۳ – ۱۷: گل پاچا الفت........................................ ۲۰٦
۳ – ۱۸: رحمت الله قندهاری ........................................ ۲۱۱

۳ – ۱۹: غلام رحمن جرار ........................................ ۲۱۲
۳ – ۲۰: محمدګل نوري........................................ ۲۱۳
۳ – ۲۱: ارسلان سليمي ........................................ ۲۱۷
۳ – ۲۲: عبدالخالق اخلاص ........................................ ۲۱۹
۳ – ۲۳: محمدشريف جانان ........................................ ۲۲۱
۳ – ۲۴: محمدرفيق حبيبي ........................................ ۲۲۲
۳ – ۲۵: محمدعمر بلبل افغان ........................................ ۲۲۳
۳ – ۲۶: محمديوسف ايازي........................................ ۲۲۴
۳ – ۲۷: ميراجان سيال ........................................ ۲۲۵
۳ – ۲۸: عبدالخالق واسعي........................................ ۲۲۷
۳ – ۲۹: قاضي عبدالصمد........................................ ۲۳۰
۳ – ۳۰: محمدګل للمه ........................................ ۲۳۰
۳ – ۳۱: عبدالرؤف بېنوا........................................ ۲۳۲
۳ – ۳۲: قاضي شکرالله........................................ ۲۳۷
۳ – ۳۳: محمدرسول مسلم ........................................ ۲۳۷
۳ – ۳۴: عزيزالرحمن ........................................ ۲۳۸
۳ – ۳۵: عبدالرازق فراهي........................................ ۲۴۰
۳ – ۳۶: شېرګل خان........................................ ۲۴۱
۳ – ۳۷: محمدرسول پښتون........................................ ۲۴۲
۳ – ۳۸: شمس الدين قلعټکی ........................................ ۲۴۳
۳ – ۳۹: محمداويس کاکړ ........................................ ۲۴۳
۳ – ۴۰: سعدالله........................................ ۲۴۴

۳ – ٤١: محمدنسیم نوري ........................................ ٢٤٤
۳ – ٤٢: عبدالغفور خروټی........................................ ٢٤٥
۳ – ٤٣: عطاء الله غزنوي ........................................ ٢٤٥
۳ – ٤٤: محمدرفیق خان قانع ........................................ ٢٤٦
۳ – ٤٥: صدیق الله رښتین ........................................ ٢٤٦
پایله........................................ ٢٤٧
مناقشه ........................................ ٢٤٩
وړاندیزونه ........................................ ٢٥١
اخځلیکونه ........................................ ٢٥٣

# د موضوع لنډيز

(د پښتو ژبې ننني ليکوال) د استاد قيام الدين خادم او پوهاند صديق الله رښتين ګډ اثر دی، چې د خپلو همعصرو ليکوالو او شاعرانو پر پېژندنې راڅرخي. په دغه اثر کې زموږ دواړو مشرانو پوهانو او د پښتو ادب دوو لويو ستو تر خپله وسه خوارې کړې او د ممکنو منابعو په لرلو سره يې د پښتو ژبې لوی ليکوال او شاعران په خلص ډول خو ځينې يې په يو څه پراخه توګه د پښتو ادب مينوالو ته معرفي کړي دي. دواړو مرحومينو د خپل کار ثمر د هماغه وخت په معتبر ارګان (کابل کالنۍ) په درو ګڼو (۱۷ – ۱۳۱۹) کې خپور کړی دی. د دې موضوع له بشپړتابه سره مې له وخته وخته علاقه لرله، څو دا دی د خپل تيزس موضوع مې وټاکله او په لاندې توګه يې لنډيز وړاندې کوم:

دا تيزس درې برخې لري، په لومړۍ برخه کې د متن پر معرفي، د ليکوالانو هر اړخيزه پېژندنه، د هغوی د ټول فرهنګي ژوند پر کړو وړو، آثارو او په دې برخه کې د هغوی پر تر لاسه شوو برياوو خبرې شوې دي. د لومړۍ برخې په آخره کې د دې متن پر ارزښت او اهميت بحث شوی دی.

په دويمه برخه کې اصل متن را اخيستل شوی دی. دا چې اصل متن په درېو بېلابېلو مقالو او جلا جلا کالنيو کې ليکل شوی خو دلته بې له هر ډول لاسوهنې په يو ځايي شکل را اخيستل شوی دی. فقط او فقط د مقالو د پرله پسې والي مراعت پکې شوی دی.

د متن درېيمه برخه تعليقاتو ته ځانګړې شوې ده. د تعليقاتو په برخه کې کوښښ شوی دی چې د متن د هر ليکوال او شاعر پېژندنه د ممکنو منابعو او

خپلې وسې پورې بشپړه او د ضروري اړخونو يادونه پکې وشي، خو بيا هم انسان تر خپلې وسې پر دی. (د پښتو ژبې ننني ليکوال) اثر کې ځينې داسې ليکوال او شاعران معرفي شوي، چې پر پېژندنې يې تر څه کم اتيا کلونو پورې وخت اوړي، خو بيا هم زه په دې ونه توانېدم د هغوی په اړه بشپړ معلومات تر لاسه کړم، د دغسې ليکوالو د تعليق په برخه کې يوازې همدومره ليکل شوي چې: "د دې ليکوال/ شاعر په اړه مې معلومات تر لاسه نه کړل".

په وروستۍ برخه کې پايله، مناقشه، وړانديزونه او مأخذونه راغلي دي.

# د لارښود گزارش

د تیزس نوم: د پښتو نثني لیکوال

بشپړوونکی: مطیع الله روهیال

د بشپړونې هدف: د ماسترۍ د تیزس لپاره

د بشپړونې کال: ۱۳۹٦هـ ش، حمل

مخونه: ۱۸۲

لارښود استاد: سرمحقق زلمی هیوادمل

**د تیزس جوړښت:**

دا تیزس د جوړښت له پلوه درې برخې لري:

تحقیقي سریزه، متن او تعلیقات. دا تیزس د څېړنې د نوعیت لـه مخــې د تدوین تر نامه لاندې معرفي کېدای شي چې متن یې د روانې هجـرې شمسيـ پېړۍ په دویمه لسیزه کـې د پښـتو دوو نومیـالیو پوهـانو، قیـام الـدین خـادم او پوهاند صدیق الله رښتین اماده کړی دی. دا مـتن د ضرورت لـه مخــې ښـاغلي مطیع الله روهیال د معاصر تدوین د اصولو له مخې نقل او تـدوین کـړی دی او بیا د متن او د متن د هر شاعر او لیکوال په باب یـې خپـل تحقیقـات د څېړنــې له مقتضیاتو سره سم د متن په سریزه او تعلیقاتو کې ځای کړي دي.

**د څېړنې میتود:**

د تیـزس لیکـوال مطیـع اللـه روهیـال دا علمــي کـار د تـدوین د معـاصرو روشونو له مخې بشپړ کړی دی او د تدوین د میتودونو نوښت ته پـه پاملرنـه یــې د متن د معلوماتو د تفسیر او توضیح لپاره مواد تشریح کړي او بیا یـوې نتیجــې

ته رسېدلی دی. پر دې اثر د ده څېړنې د تدوین او تحقیق له روشونو سره برابرې دي.

## مأخذونه:

د دې اثر د تکمیل او استفادې ته برابرولو لپاره ښاغلي لیکوال ډېرو نورو مراجعو او مصادرو ته مراجعه کړې او ډېر داسې مأخذ یې ښوولي دي چې د متن مواد پرې بشپړېږي او په دې توګه لوستونکی او استفاده کوونکی له ډېرو مأخذو سره اشنا کوي.

## اهمیت او د استفادې موارد:

د دې تیزس په بشپړېدو سره د معاصر دوران د یوې قدیمې تذکرې بشپړ متن له توضیحاتو او نورو ضروري معلوماتو سره یو ځای نورو څېړونکو ته وړاندې کېږي. دا تذکره له دې جهته ارزښت لري چې معاصره پښتو تذکره لیکنه له همدې تذکرې پیلېږي. د تذکرې اوسنی بشپړ تحقیقي شکل، ادبي څېړونکو او ادبي مؤرخینو دواړو لپاره د استفادې موارد لري.

## نتیجه:

زه د ښاغلي لیکوال د رهنما په توګه د دې اثر ټول کارونه او څېړنې مثبتې ارزیابي کوم او د ماسترۍ د تحصیلي دورې د تیزس لپاره یې کافي بولم، د پښتو ماسترۍ محترم بورد ته پیشنهاد کوم چې دا اثر د دفاع غونډې ته وړاندې کړي.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

# سریزه

د پښتو ژبې له لومړۍ معلومې تـذکرې «تـذکرة الاولیـاء» څخـه نیـولې تـر پټې خزانې او تر هغه وروسته د معـاصرو تـذکرو ټـول مـواد زمـوږ د ژبـې د ادبي تـاریخ لـه روان مسـیر سره لویـه مرسـته کـړې ده. یـادو تـذکرو د ادبي تـاریخي لیکوالو له پاره مواد برابر کړي او هغوی د خپل کار په ساحه کې په پراخه توګـه استفاده ځنې کړې ده.

(د پښتو ننني لیکوال) تذکرې مواد هم زموږ د معاصر ادب تـاریخ لـه پـاره همدغه چاره تر سره کړې ده. د دې تذکرې د ځینو ځانګړتیاوو ترڅنـګ چـې د معاصرې تذکره لیکنې پیل او د ډېرو معاصرو لیکوالو په لـومړي وار پېژندنـه یـې په سر کې راځي ځینې مشـکلات هـم تـر څنـګ لـري، مـثلاً دا تـذکره د تـذکره لیکنې د روشونو له مخې د خورا پخـواني روش تعقیـب پـه ځـان کـې نغـاړي، د دغه تعقیب یوه روښانه بېلګه دا ده چـې د دې تـذکرې د خـورا ډېـرو لیکوالـو د زوکړې او ځینو نورو پېښو تاریخونه او نېټې په تخمینـي توګـه ټاکـل شـوي دي، حال دا چې دا لیکوال هغه مهـال چـې تـذکره لیکـل کېـده اکـثر ژونـدي او پـه ډېرې اسانۍ سره د هغوی د ژوند او نورو چـارو دقیـق تاریخونـه د یـوه لیـک پـه ذریعه ځنې معلومېدلای شول. بله د یادونې وړ خبره دا ده چې د ځینو شاعرانو او لیکوالو د شعري او نثري نمونـو کمـی هـم پکـې محسـوس دی، چـې ښـکاره مثالونه یې د وزیر محمدګل خان، برهان الدین کشککي، محمدامین خوګیاڼي او ملا محمـدشریف جانـان پـه معـرفي کـې د هغـوی د شـعري نمونـو نـه راوړل یادولای شو.

ما په خپلو بشپړونو (تعلیقاتو) کې د لیکوالو پر معرفۍ د ځینو ضروري او لازمو خبرو پر زیاتونې سربېره د هغوی د زوکړې او ځینو نورو پېښو تاریخونه او نېټې هم د مؤثقو مأخذونو او کله ناکله د ځینو لیکوالو د مړینو د دقیقو نېټو د معلومولو له پاره له ساحې څخه مواد راټول کړي او کوښښ مې کړی چې خپلې بشپړونې (تعلیقات) دقیق او مؤثق وړاندې کړم.

زه د خپل کار د دقت معلوملو چاره لوستونکو ته پرېږدم چې هغوی خپله پرېکړه وکړي چې زه په یاده چاره کې تر کومې اندازې بریالی یم؛ خو بیا هم دا په ډاګه وایم چې ما تر خپلې وسې هڅه کړې ده، کېدای شي اوس هم داسې موارد وي چې ګونګ او مبهم پاتې شوي وي او دا د خپل ځان ذمه واري بولم چې په راتلونکي کې د دغه تیزس هغه مبهم ځایونه د نوو پلټنو او تحقیقاتو په رڼا کې د خپلو استادانو او نوو مأخذونو په تر لاسه کولو بشپړ او پوره کاندم.

**د موضوع موخه او هدف:**

د دې اثر اساسي موخه دا ده چې د معاصرې دورې پښتانه لیکوال او شاعران د یوې تذکرې په شکل معرفي کړي، په دغه معرفي کې دوو لیکوالو ونډه اخیستې او تر ممکنه حده او موجودو منابعو په کومک یې د پښتو ژبې ٤٢ لیکوال او شاعران معرفي کړي دي.

د اثر دواړو لیکوالو په پام کې درلوده چې د دغو شاعرانو او لیکوالو معرفي به راتلونکو تذکره لیکونکو ته مواد په لاس ورکوي څو په راتلونکو تذکرو او ادبي تاریخونو کې د استفادې وړ وګرځي.

حاضر تیزس د دغو لیکوالو او شاعرانو د معرفۍ پر بشپړونه او تکمیل لیکل شوی، په دې سره به مو نه یوازې د خپلو دوو پخوانیو مشرانو لیکوالو یو

اثر نوی کړی وي، بلکې د دغه اثر پر محتویاتو بـه د خپـل وس او تـوان مطـابق اضافات هم شوي وي، چې له یوې خوا به د تـذکرې محتـوایي اړخ بشـپړ شـوی وي او له بله پلوه به دغه غنیمت اثر د ورکې له ګردونو ژغورل شوی وي.

**د څېړنې مېتود:**

د دې تیزس د مقدمې او تعلیقـاتو پـه برخـه کـې مـې لـه بېلابېلـو آثـارو او کتابونو څخه د خپل ضرورت پر اساس استفاده کړې ده. دغه آثار مې پـه خپـل شخصي کتابتون او یا هم د پوهاند رشاد په کتابخانه کې کـتلي، مطالعـه کـړي او د خپلو پوښتنو جوابونه او ورکې پکې لټولې دي.

د دې له پاره چې د دغو یادو برخو (مقدمې، تعلیق او تحقیق) له پاره مې د خپل کار ډول او میتود ښوولی وي، نو ویلای شم چـې دلتـه مـا د څېړنـې لـه بېلابېلو ډولونو څخه کتابخانه یي ډول غوره کړی او کار مې ترې اخیسـتی دی، ځکه د خپلې ورکې له پاره کتابتونونو ته تللی یم او کتابونه مـې پلـټلي دي او د میتود په اړه یې باید ولیکم چې:

د خپلې دغې څېړنې پر مهـال مـې د څېړنـې لـه دوو مشـهورو تـاریخي او ژېپوهنیزو میتودونو څخه کار اخیسـتی دی، د دغـو دوو مشخصـو میتودونـو پـه تعقیب سره مې کله کله غوښتي چې د خپلـو پخوانیـو لیکوالـو پـر ژوندپېښـو او کړو وړو وغږېږم، د دغې برخې له پاره مې تاریخي میتود نه استفاده کـړې، خـو کله چې یې د لیکنې او شعر پـر ژبـه او ژبنیـز اړخ د غږېـدو ضرورت پیـدا شـوی دی دلته مې له ژبپوهنیز میتوده کار اخیستی دی.

**د موضوع شالید:**

(د پښتو نثني لیکوال) زموږ د دوو پخوانیو مشرانو فرهنګیـانو ګـډه لیکلـې

تذکره ده چې په (۱۷ – ۱۳۱۹) کلونو کې د کابل کالنۍ (اوس د افغانستان کالنۍ) په صفحو کې خپره شوې ده. په عام ډول د دې تذکرې د پېژندنې او څېړنې په اړه پر کومه مشخصه لیکنه یا څېړنه پېښ نه شوم، خو د دې تذکرې د لیکوالو د پېژندنې او آثارو په معرفۍ کې یې په ځینو آثارو کې ضمني یادونې راغلې دي.

یوازینی سړی چې د دې تذکرې معرفي یې کړې ده هغه ښاغلی سرمحقق زلمی هیوادمل دی، چې په خپل اثر (فرهنگ زبان پشتو – دوهم ټوک) کې یې له دې اثره یادونه کړې او معرفي کړی یې دی.

که څه هم تر دې مخکې د (تاریخچهٔ شعر پښتو) په نوم اثر پوهاند حبیبي لیکلی او د ۱۳۱۳ – ۱۳۱٤ ش کلونو تر منځ یې په طلوع افغان کې خپور کړی دی، د هغه اثر په آخر کې هم د لر او بر ځینو لیکوالو او شاعرانو لنډې او محدودې معرفۍ شوې دي، خو د لیکوالو او شاعرانو څه ډول معرفي چې په حاضره تذکره کې شوې دا تر ډېرې اندازې پورې د معاصرې تذکره لیکنې پر اصولو برابره څېزې او په خپل ځان کې د معاصرې تذکرې پیل بلل کېدای شي.